# د وطن یاد د بحیرۀ عرب پر غاړه

سین نرئ نرئ څپې وهي، لمر هم پر لوېدو دئ، وړانګې یې پر اوبو لوېږي او داسې ښکارېږي، لکه ویلې طلا چې په کټوري کې وي.

موږ په کښتئ کې کښېناستو، دقیقه په دقیقه له ساحله لیرې کېږو. دبحر سوړ وږم (نسیم) په دې وخت کې حقیقتاً جان بخشا دئ. د انسان حواس ویښوي، روح ته یو مخصوص اهتزاز بخښي، لمر هم لکه نوې پېغله شرمېږي، غواړي طلایي مخ پوڼئ (نقاب) د بحر داوبو پر مخ وغوړوي.

چې سترګې مو اړولې لمر په اوبو ننوت، دنیا یې تاریکه پرېښووه، فقط بقایا د طلا د څپرکو یې پر اُفق وپاشل...

اوه! څه ښه منظره ده! سربېره شینکی آسمان، لاندې شین کوړم بحر، په منځ کې طلایي اُفق جلوه کوي! د بحر څپې کښتئ ته حرکت ورکوي، غواړي موږ له دې ښکلا او روح پروره منظرې څخه محروم کې.

زموږ د څنګه نوري کښتئ هم تګ کوي، کله کله دومره رانژدې سي چې د دې کښتئ سره ونښلي او یوه خوفناکه صدمه راورسوي.

ما فقط د طبیعت د ښایست او ښکلا مناظرو د قدرت سیل کاوه، دې جلوه ګاه ته د بهجت او ښکلائ ډوب تللی وم، په ژوره فلسفه کې د خلقت او قدرت مې فکر واهه! نابېره یوه دلکش او نرې او زړه ښورونکي آواز دې سکوت او حیرت ته خاتمه ورکړه، که مې کتل په مخامخ کښتئ کې یوه سره کمیسې نجلئ پخپله ژبه دا ترانه وایي:

| | | |
|---|---|---|
| وطنه جار دي سمه | | بیا په سل وار دي سمه |
| تر تا واري دي سمه | | او قرباني دي سمه |

ته خو مې خپل وطن یې

ته خو مې ګل وطــن یې

| | | |
|---|---|---|
| وطنه زما وطنه | | زما د بابا وطنه |
| ته خو زما یې وطن | | نه د بل چا یې وطن |

خود به دې ښه ســاتمه

که په دې لار کې مرمه

دا دلکشه نارې یې لا نه وې تمامې کړې، چې ما ته یې تکان راکی، د وطن په یاد کې ولوېدم، خپل کور، کلی، خپل وطن، خپل د ټاټوبي روښانه فضا، درخشان لمر، لوړ غرونه، پاکه او صافه مځکه په یاد راغله!

هوکې! "هر چا ته خپل وطن کشمیر دئ". اوه! وطنه ... خپل وطنه ... ګل وطنه!

ته مې نه هېرېږې، ستا روڼه فضا، پاکه خاوره، متین غرونه، خواږه رودونه، شنه ډنډونه، زرغونه دښتونه، ایا بل چیرې به پیدا سي؟ ستا یوه لوېشت مځکه په ګرده دنیا ارزي.

حق ناشناسه به تا هېروي، بې درده او بې احساسه به تا هېروي! یا، ته خو د چا نه هېرېږې.

هوکې! نه هېرېږې! ژوندی او ښاد اوسې ګران وطنه!

وطنه! جاذبه د محبت او کشش دې څومره قوي ده! مینه دې پر روح او احساساتو د انسان څومره ټینګه حکمراني کوي! هوکې! ستا مینه او محبت فطري دي، زه څو زره میله لیرې دا دئ په اوبو کې ګرځم اما ته څومره لوی تسلط لرې پر روح د انسان؟ څومره عواطف او مشاعر د انسان په ځان پورې نښلوې!

آیا دلته مې هم په سوز کې د یاد خپل اچوې؟

هو! ته کله هېرېږې! هر څومره چې انسان ستا څخه لیرې ولاړ سي، بیا یې هم روح ستا په فضا کې پرواز کوي او ستا د یاد په خوند او حظ ژوندی وي.

نو زه هم تا نه هېروم! ستا مهیب او عظیم الشان غرونه زما سترګو ته جګ ولاړ دي.

| | | |
|---|---|---|
| وطنه نه هېرېږې<br>شکر چې تا لرمه | | خورا مې ډېر یادېږې<br>زېبا ماوا لرمه |

خدای دې ژوندی ولره

هــــم روغ رمی ولـــــره

| | | |
|---|---|---|
| له تا که سمه جلا<br>فراق دې څوک ګلوي | | روح په عذاب وي زما<br>جدایي څوک قبلوي |

آخـــــــــر به تا ته راځـــــي

که هر څو، څوک نه راځي

| | | |
|---|---|---|
| موږ خو په تا نازېږو<br>منشاء مو ته یې لومړی | | ستا په نامه یادېږو<br>مدفن مو ته یې اوستری |

خدای دې بې ما مه کوه

یا ما بې تا مـــــه کـــــوه

ژوندی او ودان اوسې خوږ وطنه!

زه په دغو فکرو کې ډوب وم، چې بېړۍ بیرته له سین څخه ساحل ته راغله، موږ هم غاړې ته راپوري وتو، شپه وه، د سپوږمۍ وړانګو بحر برېښناوه...

(له یادداښتونو د سندهـ د سفر ۱۳۰۹ ش)

طلوع افغان، ۱۳۱۲ ش، د ۱۱ کال لومړۍ ګڼه، ۲۷ مخ.